**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

# د یمن سیاسیون دروغجن دي

## (ژباړه)

په عدن کې د معین عبدالمالک د حکومت د روغتیا او د نفوس وزیر ناصر بوم د چهارشنبې په ورځ یو خبري کنفرانس درلود. ده په دغه کنفرانس کې په منصوره او عدن کې د کرونا ویروس د پنځو مثبتو پېښو د ثبت او دوو تنو د مړینې خبر ورکړ. د روغتیا نړیوال سازمان د جمعې د ورځې په سهار په خپل غبرګون کې د وزیر ناصر خبرې رد کړي او دی یې په دروغو او درغلۍ تورن کړی.

د روغتیا او نفوس وزیر دغه دروغ د هدراموت د والي فارج سلمین البحساني د دروغو وروسته مخې ته راځي. والي د الشهر په ساحلي ښار کې د ۲۰۲۰ م کال د اپریل په څلورمه د کرونا ویروس د لومړنۍ مثبت پېښې تر اعلان وړاندې په خپل ولایت کې د کرونا ویروس پر وړاندې د عامه پوهاوي او احتیاط کمپاین ترسره کړی و. د ده ترڅنګ په صنعا کې د اینکا د دولت د روغتیا او نفوس وزیر طاحا المتوکیل هم د ۲۰۲۰ م کال د اپریل پر څلورمه پارلمان ته وویل چې د ده دنده له ۲۰۰۳ م کال

راهيسې غزول شوې ده. د ده د وزارت د وړاندوينو سره سم به په يمن کې ۲۸ ميليونه خلک د کرونا پر ويروس اخته شي او په دې ډول به دوی يو ميليون بسترونو ته اړتيا ولري. ولې په هېواد کې د کرونا ويروس په اړه دروغ ويل کېږي!؟ دغه دروغ دا په ډاګه کوي چې دوی يوازې غواړي له خپلو کافرو بادارانو څخه د خپلو بانکي اکونټونو تشې خښتې ډکې کړي، نه دا چې د خپلو خلکو لاسنيوی وکړي. دغه کړنې په داسې يو هېواد کې ترسره کېږي چې خلک يې هرڅه لري، خو د دغو واکمنانو له امله به له لوږې مړه شي. همدارنګه روان حالت دا په ډاګه کوي چې دوی د روغتيايي سهولتونو په برابرولو کې پاتې راغلي او په زرګونو خلک د نورمالو شرايطو لاندې د درملنې لپاره بهر ته ځي.

دا په يمن کې د دوو سياستوالو د ښرګندونو حقيقت په ډاګه کوي، د وزير او والي، دوی غواړي يوازې له خلکو ګټه پورته کړي او حقايق وپوښي. دوی فکر کړي چې سياست يوازې دروغ او دوه مخيتوب دی؛ ځکه دوی د کپيټلېزم د چټل سياسي مکتب روزل شوي شاګردان دي او دوی ته د شهزاده ماکياولي هغه کتاب په لاس کې ورکړل شوی چې يو اصل يې په ډاګه وايې چې، **هدف وسيله توجيه کوي**. دوی د رسول الله صلی عليه وسلم دغه حديث نه دی اورېدلی چې وايې:

**«كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمْ الْأَنْبِيَاءُ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ، وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي، وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ»، قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: «فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ، أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ، فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ»**

**ژباړه:** *«بني اسرائيل د پیغمبرانو لخوا رهبري کېدل، کله به چې یو پیغمبر مړ شو، نو بل به ورته لېږل کېده، له هغه وروسته به بل و. له ما وروسته پیغمبر نه راځي، خو خلفا به وي او د دوی شمېر به ډېر وي.» صحابه وو ویل: «موږ په هغه وخت کې باید څه وکړو؟» رسول الله صلی علیه وسلم وفرمایل: «له دوی سره یو پر بل پسې بیعت وکړئ او دوی ته حق ورکړئ، له شک پرته چې الله سبحانه وتعالی به دوی د هغه څه په اړه چې ورکړل شوي محاسبه کړي.»*

دوی د یو وړوکي ویروس پر وړاندې چې یوازې تر مایکروسکوب لاندې د لېدلو وړ دی، داسې حالت ته ورسېدل، نو د لویو مسایلو پر وړاندې به څنګه وي!؟ له شک پرته چې دوی فاسقان دي؛ ځکه د یو حکمران په حیث په اسلام کې د عدالت څخه انکار کوي. هو نور د یمن د خلکو

لپاره بس دی، دوی باید د هغه خلکو په لټه کې شي چې  د دوی رهبري او د چارو تنظیم د دروغجن سیاست پر ځای د اسلامي سیاست له لارې ترسره کړي او د رسول الله صلی علیه وسلم هغه حدیث په نظر کې ولري چې سیاستوال اړباسي ترڅو د اسلام له لارې حکومت وکړي او له هغه مبارک وروسته د هغه د خلفاوو لاره تعقیب کړي.

**اې د یمن خلکو!** حزب التحریر یوازینی حزب دی چې په پوره صداقت تاسو ته پاملرنه کړي. د امت سره کار کړي ترڅو د خپل ژوند او مرگ موخه د الله سبحانه وتعالی د بیرغ د لوړول وگرځوي او د نبوت پرمنهج د دویم راشده (ریښتیني) خلافت پر تاسیس سره اسلام د امت ژوند ته راستون کړي. رسول الله صلی علیه وسلم فرمایلي دي:

**«...ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

**ژباړه:** *وروسته د نبوت پر منهج خلافت راځي.*

## حزب التحریر-ولایه یمن

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د رمضان ۸ مه**

**۲۰۲۰ م کال، د مې اوله**

**د صدور گڼه: ۱۸/۱۴۴۱**